# لمونځ! او هغه څه چې ستاسو په واک کې دي (يعني غلامان او وينځې)

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات وخت رانږدې شو نو عمومي وصيت يې دا وه: « لمونځ! او هغه څه چې ستاسو په واک کې دي (يعني غلامان او وينځې)، لمونځ! او هغه څه چې ستاسو په واک کې دي» تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبرې په سينه کې کولې (يعني وروستۍ ساه يې له همدې خبرو سره وتله)، او په ژبه يې سمې نه شوې کولای.
[صحيح دی] [النسائي په الکبری کې او ابن ماجه روايت کړی دی]

د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو زيات وصيت د امت په اړه دا و، حال دا چې د مرګ په سختۍ کې و: پر لمانځه پابند اوسئ، هغه وساتئ، ترې مه بې پروا کېږئ، همداراز د خپلو مملوکانو (غلامانو او وينځو) حقونه ادا کړئ، او له هغوی سره ښه چلند وکړئ، رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وصيت بيا بيا تکراروه، تر دې چې دا خبرې يې په مرۍ کې کولې او په ژبه يې نه شوې تکرارولی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66359